DAILY ارادہ

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۸۵۱

لسم کال - دویمه دوره، ۸۵۱ مه گڼه، پر له پسې ۱۹۱۸ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د زمري ۲۵ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د رمضان المبارک ٦ مه ۲۰۱۰ د اگست ۱٦ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

به افشاگری ادامه می دهم...

با وجود تهدیدات پنتاگون به ویکی لیکس مبنی برعدم انتشار اسناد محرمانه از جنگ افغانستان؛ مدیر این سایت تأکید کرد که به زودی ۱۵ هزار سند محرمانه دیگر را منتشر خواهم کرد.

جولین آسانج ، مدیر سایت انترنتی ویکی لیکس که در جمع خبرنگاران در استکهلم صحبت می‌کرد، اعلام کرد که همچنان قصد دارد، ۱۵ هزار سند محرمانهٔ دیگر دربارهٔ جنگ افغانستان را منتشر کند.

وی تأکید کرد قصد داریم، این اسناد را با وجود مخالفت وزارت دفاع امریکا منتشر کنیم.

ص۳

اوج فساد و دولتی با اعتبار ضعیف

سناتور جان کری، یکی از حامیان مصمم استراتیژی امریکا در افغانستان تصریح کرد که کنگرهٔ این کشور به طور فزاینده یی نسبت به موضوع فساد مالی در افغانستان نگران است و وی قصد دارد، این موضوع را مستقیما در گفتگو با حامد کرزی طی سفر آینده اش به افغانستان مطرح کند.

جان کری، رییس کمیتهٔ روابط خارجی سنای امریکا در مصاحبه‌یی گفت: قویترین پیامی که حامد کرزی، رییس جمهور افغانستان می‌تواند، مطرح کند، ارتقای اعتبار دولتش است. در حال حاضر، کرزی این اقدام را انجام نداده و ما نسبت به این موضوع نگران هستیم.

این نگرانی‌ها به واسطهٔ انتشار یکسری گزارش‌های کنگره، ارتش و گزارش‌های مستقل در مورد اختلاس و رشوه در سطوح مختلف در افغانستان ایجاد شده است. مقام های رسمی دولت امریکا به ویژه نسبت به اقدام اوایل ماه جاری کرزی برای به دست گیری کنترول تحقیقات تحت

حمایت امریکا در مورد فساد مالی در سطوح ارشد دولت افغانستان نگران هستند. به نوشتهٔ روزنامهٔ واشنگتن پست، کرزی "قوای مسوول جرایم مهم" و قطعهٔ تحقیقاتی ویژه را به فعالیت مغایر با قانون اساسی افغانستان و همچنین نقض حقوق مدنی برخی از مقام های رسمی متهم به فساد مالی متهم کرده است و اعلام کرد که حکمی را صادر می‌کند که در آن قوانین جدیدی برای این نهادها وضع شده است.

گروه‌های اعمال قانون و حقوقی امریکا - بریتانیا که در حال همکاری با قوای مسوول ضد فساد هستند نگران هستند که کرزی

ص۴

د کورنۍ جګړې بوی

ورمه ورځ د کابل ښار لویدیځه برخه د سختو ناکراریو شاهده وه. چارواکي وایي، چې د کوچني او هزاره قومونو ترمنځ د کابل په لوبدیځ کې د وړمې ورځې په نښته کې ۱۰ پولیس او ۹ نور کسان ټپیان شوي دي او ددې ترڅنګ ۱۰ کورونه، ۱۵ خپمې او ۲ د پولیسو کانټینرونه له منځه تللي دي. چارواکي زیاتوي چې له نښتې وروسته لاریون د بلواګرو له خوا شوی و.

له دې وړاندې چې کله د میدان وردګو په بهسودو او دایمیرداد کې هم د کوچیانو او هزاره ګانو ترمنځ نښته شوې وه، ګڼو کسانو ویل چې ددې شخړې تر شا سیاسي لاملونه پراته دي او په کابل کې لوړ پوړي دولتي چارواکي د یوه سیاسي هدف لپاره دغې جګړې ته لمن وهي.

که د وړمې ورځې دلانجې په اړه څوک پوره او کره معلومات ولري، په دې پوهېږي چې دا هم یو پلان شوی کار و او تر شا یې سیاسي هدفونه نغښتي وو. وسله والو هزاره ګانو په یاده پېښه کې دیو منظم او طرحه شوي پلان له مخې د کوچیانو لسګونه خیمې او کورونه وسوځول او ګڼو کوچیانو ته یې مرګ ژوبله واړوله، خو برید کوونکي ددې پېښې د پټولو او ددې لپاره چې خپل ځانونه بې ګناه وښیي بیا لاریون ته راووتل او هڅه یې وکړه چې له تاوتریخوالي په ډک لاریون سره له اصلي پېښې د خلکو پام بل لورته واړوي.

داسې ویل کېږي چې دا شخړې کورني او بهرني لاملونه لري، یو لورته ته د ولسي جرګې ټاکنې را روانې دي، نو ښایي ځینې ټپل شوي مشران د خلکو احساسات را وپاروي او په دې ډول یو ځل بیا د ځان لپاره ولسي جرګې ته د تګ زمینه برابره کړي. بل خوا ویل کېږي چې بهرني ځواکونه په افغانستان کې د خپلې ماتې د بدیل په توګه په دې هېواد کې د کورنۍ جګړې پلان لري

۳مخ

په جلال اباد ښار کې د خوراکي توکو بیې اسمان ته ختلې!

د جلال اباد ښار اوسېدونکي شکایت کوي چې د روژې مبارکې میاشتې له راتګ سره سم، په ښار کې د خوراکي توکو بیه څو برابره زیاته شوې ده.

خو د ښار دوکانداران وایي چې د خوراکي توکو بیې دوی نه، بلکې د لویو سوداګرو له خوا لوړې شوې دي. د ښار د رهیمي ناحیې یو اوسېدونکی ملا ګل وایي، چې یو من ګوړه له روژې مخکې په ۵۵۰ کلدارو وه، خو د روژې له راتګ څخه وروسته یې بیه ۹۵۰ کلدارو ته لوړه شوې ده.

د یادونې وړ ده، چې په جلال اباد ښار کې پاکستاني کلداري په راکړه ورکړه کې کارول کېږي او د ګرمۍ پرمهال اوسېدونکي له ګوړې شربت جوړوي او ډبر کارول کېږي.

ملا ګل وایي: ((ددې پر ځای چې د روژې په مبارکه میاشت کې خلک د خدای رضا ترلاسه کړي او توکي ارزانه

۳مخ

کشف میدان های بزرگ نفتی در شمال کشور

حکومت افغانستان می گوید، میدان بزرگ نفتی را در شمال کشور کشف کرده است. جواد عمر، سخنگوی وزارت معادن افغانستان دیروز گفت، بعد از بررسی زمین شناسان افغان و بین المللی، این ساحهٔ نفتی که حدود ۱.۸ میلیارد بیرل (بوشکه) نفت خواهد داشت، در میان شهر مزارشریف و شهر شبرغان کشف گردیده است. او گفت: "قمیت این (نفت) را در بازار نمی دانم. اما بررسی های مقدماتی نشان می دهد که ۱.۸ میلیارد بیرل نفت خواهد داشت و من فکر می کنم، مقدار این نفت بیشتر از آنچه تخمین شده، خواهد بود". قبلا محققان ایالات متحده امریکا گفته بودند، افغانستان به ارزش یک هزار میلیارد دالر معادن دست نخورده دارد. اما مقام های افغانستان گفته اند، ارزش معادن افغانستان به سه هزار میلیارد دالر می رسد. برای افغانستان که وابسته به کمک های خارجی است، معادن ارزش اقتصادی حیاتی دارد. شرکت های زیادی مایل به اشتراک در مناقصهٔ استخراج معادن افغانستان هستند، اما استخراج این معادن با چالش های امنیتی مواجه است. از سوی دیگر، افغانستان خود امکانات استخراج معادن را ندارد.

عبدالسلام ضعیف سفیر سابق طالبان در اسلام آباد:

مذاکره با رهبران طالبان باید در کشور ثالثی انجام شود

فقط لیست سیاه نیست، که باید روی آن خط بطلان کشیده شود، بلکه صدها لیست عجیب و غریب دیگری نیز وجود دارد که باید از بین برده شود

عبدالسلام ضعیف سفیر سابق طالبان گفت، به منظور حل بحران افغانستان و موفقیت مصالحه چهار گام اساسی یی وجود دارد.

به گزارش فارس نیوز، ضعیف گفت، گام اول تغییر استراتیژی در جنگ افغانستان است، آن هم به شکلی که افغان ها کنترول تمام امور نظامی و سیاسی را در دست داشته باشند. ضعیف گام دوم را قایل شدن جایگاه سیاسی برای طالبان بیان کرد و گفت: اگر امریکا خواهان مذاکره با طالبان است، باید کشور ثالثی تعیین کند، تا رهبران طالبان با حضور در آن به عنوان طرف مقابل شناخته شوند و مذاکره با طالبان در آنجا صورت گیرد.

سفیر سابق طالبان در اسلام آباد، گام سوم را آزادی زندانیان گوانتنامو، بگرام و سایر زندانیان ذکر کرد و گفت: این زندانیان یا باید آزاد شوند و یا به دولت افغانستان تحویل داده شوند. وی افشا کرد که امریکا در پایگاه نظامی "شوراب " در ولایت هلمند، ۱۰۵۰ تن از افغان ها را در بند دارد که بی سرنوشت در آنجا به سر می برند. عبدالسلام ضعیف اذعان کرد که سازمان ملل متحد، دولت افغانستان و هیچ نهاد دیگری از این زندان اطلاع ندارند.

ص۳

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د جګړې کرښه نوره هم توده شوې ده!

په افغانستان کې د ناټو او بهرنیو ځواکونو د حضور نهم کال هم په بشپړ ډول د سره سره، د هغه هدف لپاره چې دوی دلته مېشت شول، قرباني يې ورکړه، سترې مادي پانګې يې ایرې کړې، تر اوسه پورې هغه هدف ترلاسه شوی نه دی. که څه هم د ناټو او کورنیو ځواکونو د سرتېرو مرګ ژوبله د هرې ورځې په تېر ډول سره بیا هم مخ په لوړېدا ده او داسې ورځ نشته، درې - څلور بهرني سرتېري د بمونو خوراک شوي نه وي، خو بیاهم په افغانستان کې د امن او ثبات قحطي خلک تر سپړمو راوستي او دغه ارمان ترسره کېدو ته يې ناهیلې ښکاري. دمګړۍ په افغانستان کې هېڅ شی، جوړ او سم نه بر ښي، دلته فقر او بېوزلی بیا هم زمور د بېوزلو هېوادوالو پر ستونو خپلې منګولې ښخې کړې، دلته د مرګ او وحشت کاروان ورځ تر بلې ګړندۍ کېږي، دلته امن او سوله په نه ترلاسه کېدونکې هیلې بدله شوې، دلته خلک د امید سبا خوړلي او نور هغه د چا په خبره دا نړۍ د خوبونو او امیدونو نړۍ نه، بلکې د دوزخونو، دردونو او رنځونو نړۍ ورته ښکاري، دلته هره ورځ زیات خلک د مرګ کندې ته لاهو کېږي. د ملګرو ملتونو د وروستیو شمېرو له مخې، روان کال یوازې د ملکي وګړو په مرګ ژوبلو کې، ۳۱ سلنه زیاتوالي راغلې. همدا راز د ملي اردو او ملي پولیسو د ځواکونو په تلفاتو کې هم د تېر کال په پرتله، کره او ښکاره زیاتوالی ترسترګو کېږي، د کورنیو چارو وزارت چارواکي څرګندوي، چې یوازې په تېره میاشته کې يې تر ۱۰۰ سلو زیات د ملي پولیسو سرتېرو د هېواد په روانو تاوتریخوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی، دا هغه شمېره، چې په ژوره توګه د تېر کال د ورتې مودې په پرتله، ۴۰ سلنه زیاتوالي جوتوي. سږ کال د ملي اردو بخت هم ښه نه بر ښي، د ملي دفاع وزارت د چارواکو په خبره، د یوازې د روان کال په تېرو شپږو میاشتو د ملي اردو سرتېرو ته د سر دومره زیان اوښتي، چې د تېر کال په ټوله موده کې ورته نه اوښتی.

بل لوري، د امریکایانو او ناټو عسکرو د سرزیانونه هم له اسمان سره خبرې کوي، د رپوټونو له مخې، یوازې د روان په اوو نیمو میاشتو کې د ناټو د سرتېرو د مرګ ژوبلې کچه، تر ۴۳۰ اوړي، کوم چې د تېر کال د ۱۱ میاشتو له اوښتو زیانونه سره پرتله کېدای شي، د ناټو مسوولو کسانو په باور، له دې سره په افغانستان کې د ۲۰۰۱ کال راهیسې د ناټو او بهرنیو ځواکونو د مرګ ژوبلو شمېر ۲۰۰۰ تنو ورسیده، چې ۲۵ سلنه يې یوازې د روان کال په اوو نیمو میاشتو کې د ناټو ځواکونو ته وراوښتی دی. که څه هم کارپوهانو او د نظر خاوندانو په هېواد کې د تاوتریخوالي بې کچې زیاتوالی او ورسره د ناټو او بهرنیو ځواکونو د مرګ ژوبلو زیاتېدل، د بېلابېلو لاملونو لکه د هوا ګرموالي، د مخالفینو په بریدونو کې زیاتوالي او دوسلوالو له خوا د زورورو چاودېدونوکو بمونو د کارولو زېرنده بولي، خو د دغو لاملونو په پام کې نېولو سره سره چې تر دېره برېده سطحي او سرسري ښکاري، په افغان جګړه کې، تر دېره حده، د ستراتیژیو او کړنلارو د ګز او پل په تله کې تلل کېږي، داسې ښکاري، چې د افغان او ناټو ځواکونو پوځي ستراتیژۍ ګاني او کړنلارې د افغان جګړې له عهدې او افغاني حاکمو شرایطو او وضعیت څخه نه شي وتلای او له هغې سره برابرې نه دي جوړې شوي. په څو تېرو کلونو کې د هرې ورځې په تېر ډول د افغانستان په اوضاعو کې نه یوازې ښه والي راغلی، بلکې د هرې ورځې په تېر ډول وضعیت نور هم خوړین او ورسره د سرتېرو په مرګ ژوبلو کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی، دا په خپله د دې ښکار ندوی دی، چې په تېره موده کې ټولې کړنلارې د افغانستان د موجوده واقعیتونو او حاکمو شرایطو پر خلاف طرح او د عمل ډګر ته راوتلي، پر دې بنسټ، ویلي شو، چې خبره په ستراتیژیو او کړنلارو کې ده، څو په هغو کې کره او ژور بدلون را نه شي او په تېرو ماتو، کمزورېو او تېروتنو له سر غور و نه شي، دا به یوه معجزه وي، چې افغانستان وژغورل شي او افغانان په کې ارامه ساه واخلي.

په ارزګان کې هوایي ډګر جوړېږي!؟

احسان الله ارینزی

زما ګران ارزګاني هېوادوال دې په دې لیکنه نه خپه کېږي. زما په خپلو ارزګاني وروڼو او خویندو د خدای پاک (ج) ټول مادي او معنوي نعمتونه پېرزو دي. دریغه چې ارزګان او ټول افغانستان د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په شان اباد وای. حکومتونو ورته ښکلي ښارونه او ښارګوټي په پلان کې نیولی وای، خلکو په دې ښارګوټو او شنو کلیو کې ښایسته کورونه درلودای، په دې کورونو کې د کور د هر غړي لپاره جلا - جلا کوټې وای، دا کوټې په سرو غالیو پوښلې وای، په هر کور کې سړې او تودې اوبه وای، خلکو د ځښاک پاکې اوبه، پوره ډوډۍ، مېوه، شودې او سابه درلودای. هر چا موبایل ټېلفون، ټلویزیون، انترنټ، کمپیوټر، عصري پخلنځی، د لوښو وینځلو ماشین، د جامو وینځلو ماشین، موټر او د کرنې او کار عصري او پرمختللي وسایل درلودای، خلک ټول باسواده او د لوړو زده کړو خاوندان وای، هره خوا ښایسته دیني مدرسې، ښوونځي، کالجونه، جوماتونه، کلینیکونه، روغتونونه، سپورتي ډګرونه، پارکونه، باغونه، فارمونه، کارخانې او نور راز راز مدني تاسیسات وای. ښځو او نارینه وو په ګډه په ټولنیز ژوند کې برخه اخستی ارزګان له نورو ولایاتو سره ډمبر سړکونه درلودای، په ارزګان کې ټولنیز - اقتصادي ژوند داسې یوې کچې ته رسیدلی وای چې په موټرو، ریل او الوتکو کې تګ راتګ وای او خلکو یو ښکلی پرمختللی، هوسا، کراره او د ګډ تفاهم ژوند درلودای او د دین مدرسینو او واعظینو هره روځ خلک نیکو چارو، اتفاق، ورولی، حلال ژوند، تقوا، صداقت، رښتینولی او سوله ییز ژوند ته رابللی.

اوسنی ارزګان وروسته پاتې ولایت دی، بل لور تېرو دېرش کلنو خونړیو جګړو داسې ځپلی چې هر اوسېدونکی يې درد لیدلې او رهر کانی - بوتی يې په وینو رنګ دی. دارزګان د یتیمانو ټاټوبی دی او دا کلونه کلونه کېږي چې خلک يې ژاړي او له ستر ګو څخه د اوښکو پر ځای وینې ځڅوي.

اوسنی ارزګان د سپېرو کلیو، سپېرو کورونو او سپېرو خلکو کور دی، هره روځ بمونه غورځي، هره روځ ماینونه چوي، هره روځ باړونه چلېږي او هره روځ نوې وینې توېږي. اوسنی جګړې پر ارزګان اور بل کړی او وچ او لانده وو په ارزګان کې په تېرو نهو کلونو کې د هالند د شاهي هېواد عسکر پراته وو. دا عسکر د امریکا د متحدو ایالاتو د هغه ستر لښکر یوه برخه دي، چې د طالبانو او القاعدې د ټکولو په موخه يې د نړۍ د ځلور ځلو ښنټو هېوادونو له عسکرو څخه جوړ کړي دي. د کال ۲۰۱۰ د جولای په لومړۍ نېټه په افغانستان کې د هالندي عسکرو د ماموریت موده پوره کېږي او ببرته خپل هېواد ته ستنېدونکي دي. په هالند کې ویل کېږي چې دې هېواد ارزګان څخه د خپلو پخوانیو عسکرو دایستلو لپارهلومړي ۱۴۰۰ کسان هلته استولي وو. دې مرستندویه پوځ د هغو لارو امنیت نیوه چې هالندي عسکر له خپلو وسایلو او وسایطو سره پرې د سپین بولدک یا تورخم په لاره تر کراچۍ پورې ورسي. د هالند حکومت د دې نقل و انتقال لپاره ۱۳۰ ملیونه ایرو بودجه په پام کې نېولې ده!

په هر صورت هغه څه چې زه يې د دې مقالې لیکنې ته وهڅولم د رسنیو هغه خبر و چې وایي هالندیان د جرمنیانو په مالي ملاتړ، په ارزګان کې یوه ښه نښه پرېږدي او د ارزګان خلکو ته یو لوی هوایي ډګر جوړوي!

د دغه هوایي ډګر د بنسټ ډبره د جولای په ۲٦ (زمري ۴ - ۱۳۸۹ هـ ش) د هالنديانو د پوځي چاونې څنګ ته کېښودل شوه. په غونډه کې د ارزګان سرپرست وایي حاجي خدای رحیم جان، د هالند د PRT مشر او پوځي قوماندان جیمز مول، په ارزګان کې د استرالیایي پوځونو استازو او د ولایت چارواکو ګډون کړی وو. ویل کېږي چې د ارزګان د هوایي ډګر په پروژه کې به ۴۷ ملیونه ایرو (۲۱،۵۰۰،۰۰۰ ډالره) ولګول شي چې پیسې يې د هالند او المان حکومتونه ورکوي. د داسې یوې ستر ې پروژې د بنسټ د ډېرې د اېښودلو په مراسمو کې، د افغانستان د حکومت کوم وزیر برخه نه وه اخستې، حتا د ملکي هوایي چلند د وزارت معینیان یا کوم لوی رییس هم نه وو رغلی؛ خو والي حاجي خدای رحیم جان دا یوه ګټوره پروژه بللې او د هالندي PRT مشر ویلي چې هالندیان له ارزګان څخه د تګ په درشل کې، دې خلکو ته یو تاریخي خدمت کوي او له دې وروسته به د ارزګان خلک له دې هوایي ډګره د افغانستان نورو ولایاتو او د نړۍ ببلابېلو هېوادونو ته الوتنې کوي!!؟؟

ډېره عجیبه ده د یوې داسې پروژې د کار پیل په مراسمو کې د حکومت لوړ پوړو چارواکو او په تېره د اړوند وزارت مسوولینو برخه نه ده اخیستې چې ۱۷ ملیونه ایرو لګښت پرې راځي. په داسې حال کې چې همدا چارواکي کله بیا د پنځه ویشت زره ډالرو پروژې ته ورځلي او خپل عکسونه ټلویزیونونواونورو رسنیو ته استوي چې خلک يې د کار په وخت کې وویني او شاباس پرې ووایي!

په افغانستان کې د ملکي هوایي چلند، هوایي ډګرونو او الوتکو تاریخچه د ډېرو نورو پرمختیایي کارونو په شان، د اعلحضرت غازي امیر امان الله خان وخت ته رسي. په افغانستان کې د ملکي هوایي چلند لومړنی اداره پر ۱۳۳۱ هـ ش کال، لومړنی هوایي شرکت (اریانا افغان) پر ۱۳۳۳ هـ ش کال او د کابل نړیوال هوایي ډګر پر ۱۳۳۳ کال جوړ شوی، وروسته دویم ستر هوایي ډګر د کندهار دی چې پر ۱۳۴۱ هـ ش کال د امریکا د متحدو ایالاتو په تخنیکي او مالي مرسته، الوتنو ته

۳ مخ

خلک د رایې ورکولو د کارټونو د وخت د زیاتوالي غوښتنه کوي

د افغانستان ګڼ شمېر خلک وایي، د انتخاباتو خپلواک کمېسیون دی د رایې ورکولو د کارټونو مرکزونه، نور هم پرانیستي پرېږدي. دوی وایي، ډېرو خلکو تر اوسه د رایې ورکولو کارټونه نه دي اخیستي او که دا مرکزونه وتړل شي، د دوی حق به تر پښو لاندې شي. خود انتخاباتو خپلواک کمېسیون وایي، چې خلکو ته دوه میاشتې وخت ورکړل شوی و او له اصولو سره سم نه غواړي چې د رایې ورکولو د کارټونو وېشلو ته دوام ورکړي.

د افغانستان په مرکز او ولایتونو کې د انتخاباتو لپاره د رایې ورکولو د کارټونو د مرکزونو له تړل کېدو سره، خلک وایي چې ډېرو لا کارټونه نه دي اخیستي او باید نور وخت هم ورکړل شي. د انتخاباتو خپلواک کمېسیون د اسد د میاشتې پر یوویشتمه نېټه د رایې ورکولو د کارټونو مرکزونه وتړل، خو ګڼ شمېر خلک ازادي راډیو ته وایي چې دوی لا د رایې ورکولو د کارټونو د اخیستو په هڅو کې دي او که دا مرکزونه نورو کارټونه ونه ویشي د ډېرو پرحق به سترګې پټې شوي وې، خلک وایي: (نوم مې قاسم دی، ډېرخلک له ایران او پاکستان څخه راغلي، غواړي چې کارټونه واخلي، که دا مرکزونه وتړل شي، خلک به له رایې ورکولو بې برخې او حق به يې وخوړل شي، باید خلکو ته نور وخت هم ورکړل شي چې کارټونه واخلي.) د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وایي، چې خلکو ته د هېواد په مرکز او ولایتونو کې دوې میاشتې وخت ورکړل شوي و، چې د رایې ورکولو کارټونه تر لاسه کړي، دا کافي وخت و او نور نه شي کولای چې د رایې ورکولو د کارټونو د ورکړې موده وغځوي. د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون رییس فضل احمد معنوي ازادي راډیو ته وویل چې په تېرو دوو میاشتو ولیدل شول، چې د یو منظم سیستم نشتوالي او له کارټونو څخه ناوړې ګټې اخیستنې، دوی اړ کړل چې د رایې ورکولو مرکزونه وتړل، خو د اسد د میاشتې پر یوویشتمه نېټه د رایې ورکولو د کارټونو مرکزونه وتړل شول، خو د رایې ورکولو د کارټونو وېشل بند کړي. معنوي وویل: (په دې پراونو کې اوه لس نیم میلیونو خلکو کارټونه اخیستي، په دې انتخاباتو کې کارټونو وېشلو ته ضرورت نه و، خو د دې لپاره چې ډېرخلک په کې برخه واخلي مور مرکزونه پرانېستل، خو ولیدل شول چې ډېرو تکرار کارټونه واخیستل چې دا کار غیر اصولي او انتخاباتو ته زیان رسوي.) په دې هکله مدني ټولنې، فیفا یا (د ازادو اوعادلانه انتخاباتو بنیاد)، د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون، ملي شورا او د ولسمشر مشاورانو هم بحثونه کړي او د رایې ورکولو د کارټونو نور وېشل يې سودمن ګڼلي دي. خو د انتخاباتو کمېسیون وایي، چې د نورو کارټونو وېشل د دې پرځای چې انتخاباتو ته ګټه ورسوي، زیان يې تر ډېر احساسېږي. تاکل شوې ده چې د ولسي جرګې انتخاباتو د سنبلې پر اوه ویشتمه نېټه ترسره شي، په دې انتخاباتو کې د ولسي جرګې دوه سوه نهه څلویښت کرسیو ته شاوخوا دوه زره او پنځه سوه تنه ولاړ دي.

په جلال اباد ښار کې د ...

خرڅ کړي، دوکاندران د ناوړه ګټې ترلاسه کولو په موخه د هر شي بیه څو چنده زیاتوي.))

د جلال اباد ښار د اومې ویالې د سیمې یو اوسېدونکی جان محمد وایي، چې پخوا یوه لس منۍ بوجی اوړه په ۱٦۵۰ کلدارو وه، خو د روژې له لومړۍ ورځې یې بیه ۱۹۵۰ کلدارو ته لوړه شوې ده. هغه پژواک اژانس ته وویل، چې د روژې له راتګ سره سم یواځې د غوښې په بیه کې له ۸۰ څخه تر ۱۰۰ کلدارو پورې لوړوالی راغلی دی. نومورې وایي چې ځوک د پوښتنې نشته، هر سوداګر او دوکاندار په خپله خوښه بیې لوړي او ټول زور یې پر غریب او بې وزله ولس پرېوځي. د جلال اباد ښار د لسمې ویالې یوه اوسېدونکي حاجي محمد شریف چې ښار ته د سودا اخیستلو لپاره راغلی و، پژواک ته وویل: ((نه پوهېږم چې په روژه کې ولې دا سوداګانې دومره قیمته کېږي.)) نومورې زیاته کړه، چې باید په روژه کې لږ مراعت شوی وای، خو دا دوکاندارن ددې برعکس کار کوي او خپل جیبونه ډکوي. د جلال اباد ښار یو دوکاندار خان عالم وایي، چې د ځینو توکیو بیې له روژې څخه مخکې لوړې شوې وې. هغه زیاتوي، چې په پاکستان کې د موټر چلوونکیو د احتجاج له امله د ځینو توکیو بیې لوړې شوې او بله دا چې، بیې د لویو سوداګرو له خوا لوړېږي.

د جلال اباد ښاروالۍ د تفتیش مدیر شهر محمد وویل، چې د نرخونو د کنټرول په موخه یې د ولایت مقام، ځارنوالۍ، ملي امنیت ریاست، قوماندانۍ، د ګذر د وکیلانو او د ښاروالۍ د استازو په ګډون یو کمېسیون جوړ کړی دی.

هغه زیاته کړه، چې د کمېسیون غړي د ښار په بېلا بېلو سیمو کې ګرځي او د توکو د بیو په اړه معلومات ترلاسه کوي.

د شهرمحمد په وینا، له وړمې ورځې راهېسې یې ۴۰ قصابان نیولي دي، چې غوښه یې کیلو په ۴۰۰ او ۳۵۰ کلدارو پلورله.

د کورنۍ جګړې ...

او ښایي دا شخړې هم ددې پلان یوه برخه وي، له دې امله دا ستونزه جدي ده. له بده مرغه چې حکومت دغه ستونزې ته یوازې له حقوقي او جنایي اړخ څخه کتلې دي، دا پر ځای نظر دی، چې د کوچیانو او هزاره ګانو ستونزه یوازې حقوقي ستونزه ده او باید سیاسي اړخ خپل نه کړي، خو له بده مرغه چې اوس ستونزې سیاسي رنګ اخیستی او حکومت هم باید نور دې ستونزې ته یوازې د یوې حقوقي ستونزې په شان ونه ګوري. د لوی افغانستان وېبپاڼې د راپور له مخې، سره له دې چې ولسمشر حامد کرزي ددې پېښې د څېړلو لپاره یو پلاوی تاکلی او دې پلاوي ته یې دنده سپارلې، تر څو هغه کسان ونیسي چې د یادې پېښې د اوږدولو هڅه یې کړې، خو د یادې پېښې خطر ته په کتو سره دا یو سوړ تصمیم دی. دا ستونزه جدي ده، له دې ستونزې د کورنۍ او قومي جګړې بوی راځي او داسې ښکاري چې دا یو منظم او قوي پلان پر اساس دا ستونزه اوږدېږي. افغان ولسمشر باید تر دې جدي شي، د هغو سیاسي تپل شویو مشرانو مخه ونیسي چې په دې ډول کرنو کې لاس لري او د دوی اصلي څېره باید خلکو ته ور وپېژني او که داسې ونه شي، له شک پرته چې دا خطرناک پلان په ښه ډول پرمخ ځي او د بریا چانس یې زیات دی.

په ارزګان کې هوایي...

چمتو شوی دی.

د کندهار د هوایي ډګر د عصري کولو او پراخولو نظر څو کاله مخ د ملکي هوایي چلند د نړیوالې ټولنې متخصصینو ورکړی و. په هغه وخت کې هغه الوتکو چې له اروپا څخه لرې ختیځ ته الوتنې کولې، پستون لرونکي ماشینونه درلودل لکه DC-٦ د دې الوتکو د تېلو زیرمه کوچنۍ او سرعت کم و او د لرو الوتنو په جریان کې به د لارې په مسیر کې د تېلو اخیستلو لپاره ښکته کېدلې. نوموړو متخصینو اټکل کړی و، چې د کندهار لوی هوایي ډګر د ترانزیتي اسانتیاوو او تخنیکي او لوژیستکي خدمتونو په وړاندې کولو سره ښه ځای بلل کېږي او د افغانستان سوداګري به ور سره پر مخ لاړه شي.

د کندهار نړیوال هوایي ډګر دهمدې محاسبې پر بنسټ پر ۱۳۴۱ هـ ش کال الوتنو او کیناستو ته چمتو شو چې ۳۲۰۰m اوږده رنوې، د برېښنا، مخابرې، راډیو، لارښوونې او ځار عصري سیستمونه یې درلودل. په دې ډګر کې د ترانزیت مسافرو لپاره یوعصري هوټل هم جوړ شوی و؛ خو تر دغه وخته پستون لرونکې الوتکې له موډه لوېدلې او ځای یې داسې جټ الوتکو نیولی و، چې بې له ښکته کېدو او تېل اخیستلو مطلوب ځای تلې او خپل مسافر یې په لنډ وخت کې رسول. دغه پرمختګ هغه وړاندوینه پر اوبو لاهو کړه چې کندهار به په یو لوی ترانزیت ځای بدلېده او د اروپا او لرې ختیځ تر منځ تلونکې الوتکې به هلته ښکته کېدې. که داسې شوی نه وای؛ نو د کندهار نړیوال هوایي ډګر به دولت ته د عواید و په یوه ستر مرکز بدل شوی وای. له بده مرغه چې داسې ونه شول او د افغانستان دولت او د هوایي چلند چارواکي په دې کې پاتې راغلل چې بهرنۍ الوتکې په دغه ډګر کې کېناستو ته وهڅوي.

له دې وروسته د کندهار هوایي ډګر د دولت لپاره یو مصرفي ځای و. د ډګر پرسونل او حفظ او مراقبت تل له دولت څخه بودجه اخیسته؛ خو عاید یې نه درلودل او هغه پیسې ېې چې ېې د ډګر پر جوړولو لګېدلې وې.

د کندهار د هوایي ډګر کیسه موځکه ولیکله چې د ارزګان د هوایي ډګر سر نوشت په به کټ مټ همدا شان وي. داسې ښکاري چې د افغانستان حکومت، ښاغلی کرزی، وزیران او د ملکي هوایي چلند د وزارت چارواکي اصلاً پر دې سترە پروژه خبر نه دي. د هوایي ډګرونو جوړول د والي او پوځي قوماندانانو کار نه دی. دا د متخصصینو او پوهانو کار دی. دا ډېره دقیقه مطالعه غواړي، په دې کار کې باید د ملکي هوایي چلند د نړیوالې ټولنې ماهران ګډون ولري. د ارزګان د هوایي ډګر لپاره باید فني، تخنیکي، عملیاتي، او تجارتي معلومات راغونډ او داسې یو راپور ولیکل شي چې د ډګر د جوړولو ضرورت په کې تثبیت او ګټور توب یې ثابت شي. که د ۱۷ میلیون ایرو پروژه یوازې د حاجي خدای رحیم جان او ښاغلي جیمز مول په خوښه جوړېږي او هېڅ راز مقدماتي مطالعات یې نه وي بشپړ شوي؛ نو زه په زغرده ویلای شم چې دا به یوه نمایشي، سلیقوي او سیاسي پروژه وي او هېڅ ګټه به ونه لري او د ارزګان هوایي ډګر به هېڅکه یو ستر ملي یا نړیوال ډګر نه شي او دا ۱۷ میلیونه ډالره به د سیمه ییزو چارواکو، قراردادیانو او د PRT د ځینو مشرانو جیبونو ته ولوېږي او ډګر به هېڅ تجارتي، عملیاتي ارزښت ونه مومي او حفظ او مراقبت به یې د دولت په بودجه بار شي.

که څه هم په ارزګان یا د افغانستان په هر ولایت کې د پیسو لګول ښه کار دی او خلکو ته څه نا څه کار پیدا کېږي؛ خو د پیسو په لګولو کې باید له منطق څخه کار واخیستل شي. په تېرو نهو کلونو کې په افغانستان کې ډېرې پیسې همداسې پر اوبو لاهو شوې چې هېڅ ګټه یې ونه کړه او د خلکو په ژوند کې یې ډېر مثبت بدلون رانه ووست.

زه غواړم چې دارزګان خلک د دې پروژې مخه ونیسي. دا د دوی په راتلونکي ژوند هېڅ اغېزه نه لري، خلک دې مرکزي دولت او هالنډي PRT دې ته اړ باسي چې په دې پیسو تولیدي پروژې ورته جوړې کړي. د مثال په توګه نوې کرنېزه ځمکې دې جوړې کړي چې زراعتي محصولات زیات شي، داوبو او بریښنا بند دې جوړ کړي، فابریکې دې جوړې کړي او لنډه دا چې دا پیسې دې پر داسې پروژو ولګېږي چې تولیدولري او پیسې ېې بېرته جوړې کړي چې د وران پیدا شي او د اقتصاد خرڅونه په حرکت راولي. که داسې نه وي او پیسې د هوایي ډګر پر پروژه ولګول شي، اوس به یو څو عسکري هلیکوپترونه ځنې والوځي؛ خود بهر نیانو له وتلو وروسته به اوني کم یوه الوتکه هم نه ورځي او د ډېرو پیسو یوه پروژه به بې استفادې او راکړه پرته وي او د کندهار د نړیوال هوایي ډګر کیسه به یوځلې بیا تکرار شي! چې خبره را لنډه کړو هالنديان، جرمنیان او د افغانستان چارواکي دې، د داسې پیسو د لګولو په کار کې له منطق څخه کار واخلي. ارزګان هوایي ډګر ته اړتیا لري؛ خو داسې یو ډګر ته چې په اوسنیو شرایطو کې د خلکو ستونزې رفع کړای شي. د ډېر ستر او عصري ډګر جوړول مانا به داسې وي لکه د یو چا چې پښې لوڅې وي؛ خو په سر یې قره قلي وي!

ارزګان ځمکو، فارمونو، کارخانو او تولیدي پروژو ته اړتیا لري، که د عامو خلکو اقتصادي وضع ښه نه وي او د صادراتو او وارداتو وس ونه لري، ځوک به د ارزګان له هوایي ډګره د افغانستان نورو ولایاتو او د نړۍ هېوادونو ته سفرونه کوي!!؟؟

مذاکره با رهبران طالبان...

عضو سابق طالبان تاکید کرد: قدم دیگری که باید در این راستا برداشته شود، خاتمه به لیست و لیست بازی است و اذعان کرد که فقط لیست سیاه نیست، بلکه لیست های عجیب و غریب دیگری نیز هست که باید روی آنها خط بطلان کشیده شود.

وی اذعان کرد: بعد از سپری کردن این مراحل فضای اعتماد میان طالبان، دولت افغانستان و امریکا بوجود خواهد آمد و آن زمان راه مذاکره و تفاهم میان طالبان و دولت افغانستان هموار خواهد شد.

این مقام ارشد طالبان تاکید کرد که به غیر از راه مذاکره و تفاهم، راه دیگری برای مشکل افغانستان وجود ندارد.

ضعیف در مورد صلح و مذاکره دولت افغانستان و طالبان که آغاز شده است، اذعان کرد: دولت افغانستان در تلاش است که صلح در این کشور برقرار شود، اما این کار خارج از توان دولت افغانستان است.

وی تصریح کرد که مشکل افغانستان، مشکل داخلی نیست، بلکه مشکل خارج از این کشور است.

ضعیف که به تازه گی از لیست سیاه سازمان ملل خارج شده است، افزود: اگر مشکل افغانستان داخلی است، پس امریکا در این کشور چه می کند.

عبدالسلام ضعیف در مورد حذف نام برخی از اعضای طالبان از لیست سیاه گفت: این خواست خارجی ها بود که برخی افراد از لیست سیاه حذف شوند و تقاضای ما و کسانی که در قبر هستند این نبود.

عضو بلند پایه سابق طالبان اظهار داشت: من به صراحت به امریکایی ها گفتم که هیچ گاه ضرورتی به حذف نام خود از لیست سیاه نمی بینم، اگر می خواهید می توانید، میزان تحریم ها را ۲ برابر کنید.

به عقیدهٔ ضعیف، امریکا برای بهره برداری سیاسی دست به این اقدام زده است. وی افزود: گرچه امریکا در ایجاد و روند "جرگهٔ مشورتی صلح" نقش اصلی را داشت، اما خروج برخی از افراد از لیست سیاه تقاضای جرگه بود و امریکا با این عمل وانمود می کند که خواهان صلح در افغانستان است. وی خاطر نشان کرد: اگر مقامات امریکایی ها قصد دارند با من مذاکره و تفاهم کنند، باید بدانند که صلح این گونه برقرار نمی شود، زیرا من بارها با امریکایی ها گفتگو کرده ام، همان گونه که امروز "دیوید پترائوس" فرماندهٔ نظامیان امریکایی و ناتو به منزل من آمده بود. عبدالسلام ضعیف راه حل صلح را در گفتگو با کسانی بیان کرد که در حال جنگ با امریکا هستند و افزود: من در منزل خود هستم و با کسی در حال جنگ نیستم.

این عضو سابق طالبان تداوم حذف افراد از لیست سیاه را کارامد خواند، اما تاکید کرد که اگر این کار به همین جا خاتمه یابد، نتیجه هیچ تاثیر بر روند صلح و یا مذاکره نخواهد داشت. ضعیف یادآور شد: امریکا هر قدمی را که در افغانستان بر داشته است برای دوام حضور نظامی و سیاسی خود بوده نه برای آوردن صلح و هر گامی که امروز بر می دارد، افغان ها آن را به دیده شک می نگرند زیرا اعتماد افغان ها دیگر به امریکا اعتماد ندارند.

افغانستان د کرکټ په څلور ورځنۍ لوبه کې سکاټلینډ ته ماتې ورکړه

افغانستان د انټرکانټینینټال کرکټ ټور نمنټ اړونده په یوه څلور ورځنۍ لوبه کې ورمه شپه کوربه هېواد سکاټلینډ ته ماتې ورکړه. دغه څلور ورځنۍ لوبه د زمري پر ۲۰ مه، د سکاټلینډ په کمپوسډون لوبغالي کې پیل شوې وه او ورمه شپه د افغانستان په وخت په څه باندې نهو بجو پای ته ورسېده. افغانستان، سکاټلینډ ته د ۵۴٦ منډو هدف ټاکلی و، خو ورمه شپه د سکاټلینډ ټوله لوبډله په ۳۱٦ منډو وسوځېدله، نو دغه راز افغانستان دا لوبه د ۲۲۸ منډو په توپیر سره وګټله.

د افغانستان له لوري یوځل بیا حمید حسن ډېره ښه لوبه وکړه او پنځه مخالف لوبغاړي یې وسوځول، نومورې ددې لوبې په لومړي وار کې هم شپږ مخالف لوبغاړي سوځولي وو. دغه ډول لوبې ته د کرکټ په اصطلاح کې (ټسټ) وایي او د څلورو ورځو په جریان کې هره لوبډله دوه دوه واړې ښټېنګ او بالېنګ کوي.

د یادې شوې لوبې پچه د سکاټلینډ لوبډلې ګټلې وه، خو لومړی یې افغان لوبډلې ته د ښټېنګ یا توپ وهلو بلنه ورکړه. د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې په خپل لومړي وار کې د لسو لوبغاړو په سوځېدو ۴۳۵ منډې جوړې کړې.

په افغان لوبغاړو کې سمیع الله شینواري تر ټولو ښه لوبه وکړه، هغه ۱۰۲، اصغر ستانکزي ۹۳، کریم صادق ٦۷ او محمد شهزاد ۵۴ منډې جوړې کړې.

د کرکټ د ملي لوبډلې مدیر نظیم جار عبدالرحیمزي د زمري پر ۲۴ مه، وویل، چې د سکاټلینډ لوبډلې د افغان توپ اچوونکو او په ځانګړي ډول د حمید حسن د بالېنګ مقابله ونه شو کړای.

هغه زیاته کړه، چې ددې لوبې ګټلو سره افغانستان ته ۲۰ نومړي ورکړل شوي او دې سره د انټرکانټینینټال ټور نمنټ په لړ کې د افغانستان نومړي ۷۷ ته ورسېدې او په جدول کې یې لومړی مقام خپل کړ.

نومورې وایي، چې سکاټلینډ ٦۷ نومرو سره دویم او زمبابوی ٦۳ نومرو سره په دریم مقام کې ځای لري.

ددې ټور نمنټ په لړ کې، افغانستان به د روان زبردي کال د اکتوبر په میاشت کې له کینیا سره خپله وروستۍ لوبه کوي.

د ملي لوبډلې کپتان نوروز خان منګل پژواک اژانس ته وویل، چې د سکاټلینډ پر وړاندې بریا د ټولو لوبغاړو د ګډو هڅو پایله وه. نومورې په ځانګړي ډول د حمید حسن، سمیع الله شینواري او محمد شهزاد د لوبې ستاینه وکړه او ویې ویل، چې دوی په بریا کې ډېر رول ولوباوه.

د ملي لوبډلې کپتان، د نوي روژونکي راشد ستاینه وکړه او ویې ویل، چې د هغه د ښې روز تې له امله افغان لوبغاړو ډېرې ښې منډې جوړې کړې.

یاده شوې لوبه د کرکټ د نړیوالې شورا (ای سي سي) د بین البراعظمي په نامه د جام یا کپ برخه ده، چې تېر کال پیل شوې ده.

ددې جام په سیالیو کې افغانستان، ایرلینډ، سکاټلینډ، کینیا، زمبابوې، هالنډ او کاناډا برخه لري. تراوسه افغانستان او سکاټلینډ پنځه، پنځه لوبې کړې، افغانستان څلور او سکاټلینډ درې لوبې ګټلې او یوه یوه یې برابره شوې ده. افغانستان په دې سیالیو کې سکاټلینډ ایرلینډ، کاناډا او هالنډ ته ماتې ورکړې او له زمبابوې سره یې سیالي برابره شوې وه.

له سکاټلینډ سره په یاده شوې سیالۍ کې لاندې افغان لوبغاړي شامل وو: نوروز خان منګل (کپتان)، نبي عیسی خېل، کریم صادق، نور علي ځدران، اصغر ستانکزی، محمد شهزاد، حمید حسن، میرویس اشرف، سمیع الله شینواری، عبدالله مزاري او شاپور ځدران.

به افشاګری...

ګفتنی است که پنتاګون اخیراً از این پایګاه خواسته بود، هزاران سندی را که قبلا منتشر کرده است، به وزارت دفاع امریکا بازګرداند و اسناد دیګری را در این زمینه منتشر نکند.

ویکی لیکس ۱۰ روز پیش بیش از ۹۰ هزار صفحه اسناد محرمانه طبقه بندی شده دربارهٔ جنګ افغانستان منتشر کرد. بر اساس این اسناد، نیروهای امریکایی تلاش کرده اند، بر کشته شدن غیرنظامیان در افغانستان سرپوش بګذارند.

کاخ سفید و پنتاګون پیش از این افشای این مدارک را محکوم و اعلام کرده بودند، چنین اقدامی احتمالا امنیت ملی امریکا را تهدید می کند. به گفتهٔ مقامات پنتاګون، اسناد جدید در مقایسه با اسناد منتشرشدهٔ قبلی در ویکی لیکس، به مراتب جنجالی‌تر خواهند بود.

درهمین حال سازمان بین‌المللی گزارش‌گران بدون سرحد که از آزادی بیان در سراسر جهان دفاع می‌کند نیز، راجع به بی‌مسوولیتی بی‌حد ویب‌سایت ویکی‌لیکس ابراز تاسف نموده است.

به گفتهٔ این سازمان؛ معلومات افشاشده از طرف ویکی‌لیکس، مردم محلی را که با ایتلاف بین‌المللی در افغانستان کمک می‌کنند، با خطر بسیار جدی مواجه می‌سازد. همچنین طالبان و گروه‌های مسلح دیگر، بنا بر همین اسناد، می‌توانند بدون مشکل لیست مردمی را ترتیب نمایند که می‌خواهند، به خاطر انتقام‌جویی به قتل برسانند.

انتخابات؛ آسان اما سخت!

حفیظ الله رجبی

در جامعهٔ امروز افغانستان، تجربه وعلم هنوز جایگاه واقعی خویش را پیدا نکرده است وعلم دانشمندان با تجربه صاحبان تجربه به تعادل نرسیده است.

تقابل بین علم وتجربه وبه بیان بهتر، بین صاحبان تجربه و اهل علم در نظر خواننده گان محترم، مفهوم آشنایی است، بسیاری بر این باور اند که افراد با تجربه و احتمالا مسن تر، گزینه های بهتری برای انتخاب هستند؛ در حالی که عدهٔ دیگری افراد با دانش و احتمالا جوانتر را ترجیح می دهند، اما بنده با تمام احترامی که برای مردم کشورم قایلم، می گویم، در جامعهٔ امروز افغانستان، تجربه وعلم هنوز جایگاه واقعی خویش را پیدا نکرده است وعلم دانشمندان با تجربه صاحبان تجربه به تعادل نرسیده است.

تقابل و تضاد زبان انتخاباتی و اصول اعتقادی این دو دسته مردم را مبهوت کرده است و محصول آشفتگی ذهن ممکن است، به پارلمان آینده آسیب برساند.

کاندیداهای علم گرا و احتمالا جوانتر که بیشتر آنها در زمان جنگ های خانمان سوز در افغانستان نبوده اند، بسیاری از واقعیات جامعهٔ افغانستان را تجربه نکرده اند. بنا براین، آشنایی کامل با خواسته های مردم ندارند و این نکته حتا در شعارهای تبلیغاتی آنان دیده می شود. در بعضی موارد، شعارها کاملا برگرفته شده از مدل های غربی است و کلمات، ترجمهٔ لفظ به لفظ الگوی غربی است که این عده خوانده یا شنیده اند که در ساختار ذهنی جامعهٔ افغانستان نمی گنجند، مردم افغانستان قادر نیستند که با این نامزدان ارتباط کلامی مناسب جهت طرح مشکلات و خواسته های خود برقرار کنند، کاندیدان با کلمات زیبا، اما نا مفهوم مردم را مخاطب قرار می دهند، درحالی که مردم کلمات و منظور آنان را نمی فهمند. در این حالت، یک گفتمان واقعی هیچگاه شکل نمی گیرد و بیتشر ملاقات های این گونه کاندیداها با مردم در حد یک سخنرانی تنزل پیدا می کند.

اما گروه تجربه گرا و احتمالا مسن تر که بیشتر و شاید هم تمام طول عمر خود را در افغانستان بوده اند نیز، بهترین افراد برای بیان خواسته های ملت به ویژه نسل جدید نیستند. این گروه از کاندیداها فقط تجربه دارند و فرصت پیدا نکرده اند، تا تجربیات خود را در قالب مدل های مناسب به ملت امروز افغانستان ارایه کنند و ملاقات های این گونه کاندیداها با مردم در حد موعظه و پند است، به گونه یی که یکی در مقام پدر می گوید و مردم هم همانند کودکان گوش فرا می دهند. کلمات و مفاهیم این دسته با شرایط امروز افغانستان که موقعیت های جدیدی را در فاصلهٔ زمانی اندک تجربه کرده است، همخوانی ندارد.

پس تنها راه حل پیشنهادی برای یک انتخاب خوب برگرفته از خواست های کنونی مردم افغانستان، چیزی که نوید بخش آینده، همراه با درک واقعی خواهد بود، کاندیداهایی اند که هم با تجربه اند و هم دانشمند، تجربهٔ آنها به معنای توانایی در شناخت مشکلات مردم و علم آنها به معنای ارایهٔ راهکارهای مناسب می باشد و ملاقات های این گونه کاندیداها با مردم همان گفتمان واقعی است؛ جایی که هم کلمات برای مردم آشناست وهم مفاهیم مطرح شده، همان خواست های مردم است. بدون شک، ورود این گونه کاندیداها به پارلمان، افغانستان آباد، پاکیزه، باسواد و بدور از وجود بیگانگان را نوید خواهد داد. در این صورت، همه زبان هم دیگر را می فهمند و در بیان مشکل و ارایه راه حل با مشکلی مواجه نخواهند شد.

اوج فساد و دولتی...

ممکن است، در راستای لغو مجوز فعالیت آنها باشد. دو گروه تحت نهاد قوای مسوول جرایم مهم در افغانستان فعالیت می کنند که اولی از چندین مقام اعمال قانون امنیت ملی افغانستان با مشورهٔ انگلیسی‌ها و دومی نیز، از چندین مقام اعمال قانون افغان با مشورهٔ اف. بی. آی تشکیل شده است.

یکی از نارضایتی‌های اخیر کرزی در مورد دستگیری محمد ضیاء صالحی، یک مشاور امنیت ملی افغانستان به اتهام رشوه دهی بود. صالحی اکنون به قید ضمانت آزاد شده است.

جان کری که روابط نزدیک با کرزی داشته گفت که وی اخیرا در مورد سطح فساد مالی در افغانستان با رییس جمهور افغانستان گفتگو کرده، اما این گفتگو تیلفونی بوده و برای بررسی موضوع فساد مالی گفتگوی تیلفونی مناسب نیست.

جان کری تصریح کرد که نگرانی های فزایندهٔ کنگره در مورد افغانستان بیشتر بر سطح فساد مالی و ایجاد یک دولت کارآمد برای ادامهٔ این کشور است، تا ناکامی اردوی امریکا در شکست کامل طالبان در افغانستان است.

جان کری گفت: تقریبا در هر تجزیه و تحلیلی این موضوع برجسته است که فساد مالی هم به افزایش فعالیت‌های طالبان کمک می‌کند و هم دولت را تضعیف می‌کند. کنگره و مردم امریکا نسبت به این موضوع نگران هستند.

د لغمان د مرکز پر ښوونکو نغدي مرستې ووېشل شوې

اراده، لغمان - د لغمان ولایت پر یو شمېر بېوزلو ښوونکو باندې مرستې ووېشل شوې. دارادې ورځپاڼې د خبریال د خبر له مخې، دغه مرستې د لغمان د پوهنې ولایت او دافغان نشراتي مرکز د استازو پر وړاندې په ۴۵۰ ښځینه او نارینه وو ښوونکو باندې په برابر ډول ووېشل شوې.

رپوټ زیاتوي، دغه مرسته چې لس زره امریکایي ډالره وو، د روژې د مبارکې میاشتې د رارسېدو په مناسبت د دغه ولایت د مرکز پر اړو نارینه او ښځینه وو ښوونکو باندې ووېشل شوې.

د دغه خبر له مخې، دغه نغدي مرسته، د صدارت د پخواني مرستیال او د پوهنې او کورنیو چارو د پخواني وزیر استاد ډاکټر عبدالقیوم له لوري، پوهنې وزارت ته د لغمان د ښوونکو سره د همکاری لپاره استول شوې وه. باید ووایو، چې په تېرو کلونو کې دا دریېم ځل دی، چې ډاکټر عبدالقیوم د لغمان له ښوونکو سره نغدي مرستې کوي. دارادې ورځپاڼې د خبریال د څرګندونې له مخې، د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال الحاج محمد صدیق پتمن د یو لیک په ترڅ کې د استاد ډاکټر عبدالقیوم خان له مرستو مننه کړې او له دوی ځخه یې هیله کړې، چې د پوهنې له وزارت سره خپلې معنوي او مادي مرستې لاهم جاري وساتي.

د افغان نشراتي مرکز او د لغمان ولایت د پوهنې ریاست استازي اړو ښوونکو ته د مرستو دوېش په حال کې

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com